بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

د دعوت او ارشاد شکایتونو اوریدلو او نظم کمیته

# د دعوت او ارشاد شکایتونو اوریدلو او نظم کمیټې د کړنو تګلاره

## سریزه:

پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې و خپلو هدفونو ته د رسېدلو په موخه د ځینو موانعو سره مخامخ کیږي، چې په پایله کې هغه اداره او سازمان د کږېدلو (انحراف) وخوا ته میلان پیداکوي.

د پورتنۍ ستونزې د حل په موخه د دعوت او ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم کړنې ترسره کول اړین وي، څو پر بنسټ یې په ښه توګه و هدف ته حقیقي لاره پیداکړو. د افغانستان کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د یوه علمي بنسټ په توګه د دعوت او ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم کمیټه د (۱۱) غړو په شتون کې جوړه سوې، څو د دعوت، ارشاد، امر بالمعروف او نهي عن المنکر، شکایتونو اوریدلو او نظم و تطبیق ته شرایط برابر سي. د کړنو او فعالیتونو په پایله کښې به استادان، محصلان او کارمندان د همدې تګلارې مطابق و دیني او علمي ظرفیت لوړیدني او نظم راوستلو ته ښه کار سوی وي.

## لیرلید (Vision) :

د اسلامي اصولو پربنسټ، یو داسې سالم علمي او ټولنیزچاپیریال رامنځته کول چې د دعوت، ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم د تطبیق له لارې د پوهنتون استادان، محصلان او کارمندان د دیني شعور، انساني خدمتونو، معنوي روزنې او نظم په لور رهبري کړي.

## رسالت (Mission) :

د دعوت او ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم کمیټه ژمنه ده چې د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې د استادانو، محصلانو او کارمندانو د معنوي، اخلاقي او ټولنیز پرمختګ لپاره ګټور فعالیتونه ترسره کړي، څو د دیني پوهاوي او دعوتي فرهنګ د پیاوړتیا او نظم له پلوه نوموتی چاپیریال ولرو.

## ارزښتونه (Values):

1. د الله تعالی د رضا لپاره کارکول.
2. په خبرو او عمل کې ریښتنولي درلودل.
3. د انسان کرامت ته درناوی، په ځانګړي توګه مشرانو، استادانو، محصلانو، کارمندانو او ټولنې ته.
4. د پوهنتون مشرتابه، د ټولو پوهنځیو اړوند استادانو او کارمندانو سره د همدې کمیټې په کړنو کې د همږغې شتون.

## د دعوت او ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم کمیټې اړوند مادې:

### لومړۍ ماده – د کمیټې هدفونه:

1. د اسلامي اخلاقو او ارزښتونو عامول او پیاوړي کول.
2. د استادانو، محصلانو او کارمندانو دیني ظرفیت لوړول.
3. پوهنتون کې د شکایتونو اوریدلو او نظم جوړیدلو په موخه مدیریت او څارنه عملي کول.
4. د استادانو، محصلانو او کارکوونکو د اصلاح، تقوا او سالم فکر روزنه.

5. په تحصلي چاپيريال کښي د بي نظميو، سرغړونو او ناسم چلند مخنيوی.

## دوهمه ماده – د کميټي دندي:

1. د کميټي د فعاليتونو عملياتي پلان جوړول.
2. د پوهنتون په ادارو کښي د فساد د مخنيوي په منظور د خدماتو څخه نظارت کول.
3. د شکايت کوونکو د محرميت ساتنه.
4. د دعوت، ارشاد، شکايتونو اوريدلو او نظم جوړيدلو د قوانينو او مقرراتو د پوهاوي په موخه د سمينارونو او ورکشاپونو جوړيدل.
5. پوهنتون کښي د منکراتو پيژندنه او د هغو د مخنيوي لپاره مناسبي لاري چاري سنجول.
6. د ژبني، قومي او سمتي تعصبونو په له منځه وړلو کي کوښښ کول.
7. د استادانو، محصلانو او کارکوونکو ترمنځ د شخړو د حل په موخه د اصولو مطابق پريکړي کول.
8. د پوهنتون په چاپيريال کي د نشه يي موادو د کاروني د مخنيوي لپاره تدابير نيول.

## دريمه ماده – د کميټي د غونډو جوړيدل:

1. ياده کميټه به په مياشت کي يوه نوبتي غونډه ولري او د اړتيا په وخت کي به فوق العاده غونډي هم ترسره کيږي.
2. د کميټۍ د مسول په نشتون کي به د کميټۍ منشي د کميټۍ مشري کوي.
3. د کميټۍ د غونډي اجندا به د کميټۍ منشي او ټاکل سوي مسؤل لخوا د کميټۍ د غړو سره په همږغۍ جوړيږي.

## څلورمه ماده – د کميټي د مسؤل دندي او مسوليتونه:

د کميټۍ مسؤل د دعوت، ارشاد، شکايتونو اوريدلو او نظم د لايحو له مخي لاندي مسوليتونه لري:

- ✓ د مهال ويش له مخي د همدې کميټۍ د غونډو جوړول.
- ✓ د غونډې د منشي سره د اجندا په جوړولو کي همکاري درلودل.
- ✓ د کميټي د فعاليتونو په نماينده گي او د اړتيا په وخت کښي د پوهنتون و علمي شورا ته راپور ورکول.
- ✓ د کميټي د فيصلو تحقيق او په موضوعاتو کښي د کميټۍ د غړو د نظرونو تبادله کېدل.
- ✓ د کميټي د غړو سره په همږغي د لوړو زده کړو وزارت او پوهنتون علمي شورا ته د اړينو وړانديزونو وړاندي کول.
- ✓ د کميټي د فعاليتونو لپاره د پوهنتون علمي شورا ته د ستاينليکونو او تقدير نامو وړانديز کول.
- ✓ د څلور گونو پوهنځيو د کړنو او فعاليتونو څخه معلومات ترلاسه کول.
- ✓ د کميټي د مشر لخوا د کميټي غړو ته اړين مسوليتونه سپارل.
- ✓ د پوهنتون په کچه د امنيتي چارو تنظيم، څارنه او ارزونه ترسره کول.

## پنځمه ماده – د کميټي د غړو دندي او مسوليتونه:

د کميټۍ غړي د دعوت، ارشاد، شکايتونو اوريدلو او نظم د لايحو په نظر کي نيولو سره لاندي مسوليتونه لري:

- ✓ په کميټه کي په ټاکلي وخت فعال گډون.
- ✓ د کميټي له خوا په پريکړو کښي برخه درلودل.
- ✓ د کميټي د کار په جريان کي د کميټي د مسؤل او منشي سره همکاري درلودل.
- ✓ د کميټي په غونډو کښي د موضوع گانو د اړيکو د تثبيت په موخه نظريي او وړانديزونه درلودل.
- ✓ د ناسم سلوک د مخينوي لپاره د پوهنتون د امنيتي نظم او وضعيت څارنه کول.

- ✓ دعوت، ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم جوړیدلو فرعي کمیټو کښې ورسپارل سوي دندي په ښه توګه سرته رسول.
- ✓ د پوهنځی استازي له خوا د کړنو راپور چمتو کیدل.

## شپږمه ماده – د کمیټي د غړو او منشي ټاکنه:

1. د کمیټي ټول غړي د یوه کال لپاره د علمي شورا لخوا ټاکل.
2. د کمیټي په لومړی غونډه کي یو کس د منشي په توګه انتخابول.
3. که چیري منشي ته بله دنده سپارل کیږي، د کال په جریان کي بل کس د کمپټي د منشي په توګه انتخابول.
4. منشي د غونډي نیټي او وخت اعلان، د مکتوبونو لیکل او جواب ورکول، د غونډو ثبت او کمیټي د حاضرو او غیرحاضرو غړو د ثبتولو دندي لري.

## اوومه ماده – د همدي کړنلاري د تائیدي مراحل:

د کمیټي لپاره د کړنو تګلاره د دعوت او ارشاد، شکایتونو اوریدلو او نظم کمیټي په ( ۹ ) ګڼه پروتوکول او ( ۱۴۰۴/۱۲/۱۴ هـ ش ) نیته ثبت او تائید وګرځیده.

**والسلام**

**مولوی محمد سلیم (سلیم)**

**د کمیټي مشر**

یاده تګلاره د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون علمي شورا په ( ۱۳ ) ګڼه پروتوکول غونډه او ( ۱۴۰۴/۱۲/۱۴ ) نیته ثبت او تائید ده.

**د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون ریاست تائید**

( )